مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور آخڼ
۲۰۲۳/۰۷/۲۹

# د جمهوریت د سقوط عوامل

## د جنګسالارانو ونډه

(شلمه برخه)

**تر ټولو ستر ورانوونکی، په سیاسي جامه کې، جنګسالار ډاکټر عبدالله، عبدالله (۱۳)**

**په افغانستان کې سوله او د سولې عالي شورا جوړېښت (۴)**

پاکستان غوښتل د طالبانو او افغان حکومت تر منځ د سولې خبرو په نوم، امریکایان او افغانان یو ځل بیا وغولوي یا دا چې نړۍ ته وښايي چې پاکستان په افغانستان کې د سولې پلوی دی، هغه وو چې پاکستانیانو د طالبانو هغه کسان چې په پاکستان کې په ښکاره ډول اوسیدل او ډېر اغېز یا سیاسي وزن یې نه درلود، د ۲۰۱۵ز، کال په جولای کې، اسلام آباد ته نږدې د مري په ښار کې له افغان چارواکو سره د سولې خبرو په موخه یو ځای کړل، په دغو خبرو کې امریکا، چین او پاکستان هم برخه درلوده، د مري د سولې خبرې چې ډېره هیله نه ورته کیده، د ملا محمد عمر د مړینې له اعلان سره له منځه ولاړې، طالبانو وویل چې د قطر سیاسي دفتر د سولې خبرو لپاره باوري ځای دی... .
«د افغانستان، پاکستان، چین او امریکا متحده ایالاتو استازي په اسلام اباد کې سره راټول شول چې له طالبانو سره د خبرو پر میکانیزم کار وکړي. په دې غونډه کې (څلور اړخیزه د همغږۍ کمیټه) جوړه شوه. دغو خبرو څلور پړاوه دوام وکړ، دوی په کابل، بیجینګ او اسلام اباد کې بیا سره کېناستل خو کومه څرګنده پایله یې نه درلوده. جنوري ۲۰۱۶ز.» (بي، بي، سي. پښتو)

موږ چې له آره د سولې هلې ځلې څارلې او په هېواد کې د امریکایانو متزلزل دریځ او د طالبانو ټینګ هوډ ته متوجه وو او افغان حکومت هم ورځ تر بلې مخ په کمزورۍ روان ؤ نو دې پایلې ته ورسیدو چې په افغانستان کې د افغان دولت او طالبانو تر منځ سوله ناشوني ده، پوهیدو چې په پای کې به جمهوري نظام د سولې په نوم قرباني کیږي، هغه مهال ما په دې اړه یوه وړاندوینه ولیکله چې سرلیک یې وو: (سوله د هوسۍ په ښکرو کې) چې د هغې لیکنې ځینې برخې را اخلو:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

## وړاندوینه

## سوله د هوسی په ښکرو کې

## (۲۰/۱/۲۰۱۶ز)

د افغانستان او پاکستان تر منځ د سولي خبرې چي د امریکا او چین تر څارني لاندې رواني دي، بې پایلي او بې ځایه هلي ځلي دي ځکه چي:

۱ــ د پاکستان د (I.S.I) استخباراتي سازمان د نوموړي هیواد له ملکي حکومتونو بېله کړنلاره لري او تل یې خپل ملکي حکومتونه غولولي او تېرایستلي دي، دا ډول کړني د پاکستان د استخباراتو پالیسي ده، داسي چي د پاکستان نظامیان یوازې د ګاډي د آسونو په شان په مخامخ او یوه لاره روان او همداسي تربیه شوي دي، په دې مانا چي د افغانستان او هندوستان سره په دښمنی کي خپل ژوند تېروي چي له افغانستان او افغانانو سره یې ورځنی کسب او کار، سل ډول دښمني ده.

۲ــ یو شمېر هغه طالبان چي په پاکستان کي یې کورنی اوسیږي تر یوی کچي د مجبوری له کبله د پاکستان د استخباراتو تر اغېز لاندې دي او هغه طالبان چي کورنی یې په پاکستان کي نه اوسیږي او له دوی سره یرغمل نه دي، هېڅ ډول اغېزه نه پرې لري او ځیني طالبان خو پاکستان ته د دښمن په سترګه هم ګوري. دغه ډول طالبان، د ایران، روسیې او نورو امریکا ضد هېوادونو، استخباراتو له ملاتړه برخمن دي چي ښه بېلګه یې طالبانو ته څو میله د الوتکو ضد توغندیو ورکول دي چي طالبان یې د (العمر) په نوم بولي. او په لږه موده کي یې څو باله چورلکي راوغورځولي او یوه امریکایي جټ الوتکه یې هم وویشتله خو هوایي ډګر ته ورسیده او کېناسته.

۳ــ د خدای تعالی فضل دی چي د پاکستان د ناوړه او غلط سیاست له امله، ډېری طالبان اوس د پاکستان له لاسه وتلي دي، په تېرو څلورو لسیزو کي د (آی، ایس، آی) اداري د استخباراتو د تکتیک او اصولو پر خلاف کړني ترسره کړي، دوی هغه ډلي او باندونه چي د افغانستان او هند پر وړاندې یې د وسیلي او وسلي په توګه استعمالول، له خپلې کچي زیات وسلوال، پیاوړي او غښتلي کړل چي اوس نړدي په یو دولتي ځواک بدل شوي دي چي له امله یې (آی، ایس، آی) نه شي کولی د اړتیا پر مهال یې بې وسلي کړي چي اوس د دوی پر وړاندې هم جګړېږي.

افغان حکومت دې د سولي پر تشو خبرو ځان نه غولوي ... خپل وخت دي په دا ډول بې مانا او بې پایلو خبرو نه ضایع کوي، **(په افغانستان کې سوله د هوسی په ښکرو کې ده)** امکان نه لري چي دا ډول خبرې نتیجه ورکړي، له تېرو څلورو لسیزو تجربو دې ګټه واخیستل شي، د ډاکټر نجیت الله د حکومت او پاکستان تر منځ د سولي پایلي دې یو ځل بیا وکتل شي چي یوازې د کاغذونو پر مخ توري کرښي وې، په عمل کي هېڅ نه وو چي په پای کي د هماغي (هوایي سولې) له امله د ډاکټر نجیب الله حکومت له منځه ولاړ.

پای

د ملا محمد عمر له مړیني وروسته ملا اختر محمد منصور چي د ملا محمد عمر مرستیال ؤ، د طالبانو مشر وټاکل شو، هغه له وړاندې له ایران او روسیې سره اړیکي ټینګي کړي وې او له هغو څخه یې مرستي ترلاسه کولې، تر ډېره یې د پاکستان له ولکي او اغېز څخه ځان ژغورلی ؤ، د سولي مخکښ او پلوی ؤ، هغه مهال چي ملا اختر محمد منصور له ایران څخه د پاکستان تر ولکي لاندې بلوچستان سیمي ته واوښت، د پاکستان د (آی- ایس- آی) سازمان د هغو کړیو چي د امریکا د (سي- آي- ای) لخوا استخدام شوي دي، د هغو په همکاری، د امریکایانو د بې پیلوټه الوتکي په هوایي برید کي ووژل شو. (۲۱/۵/۲۰۱۶ز)

د ملا منصور د وژلو په اړه د روسانو غبرګون، دا ښیي چي نوموړی د روسیې او ایران سره په اړیکه او تفاهم کي ؤ. د روسیې د بهرنیو چارو وزارت ویاندې ماریا زاخارووا، د ملا اختر محمد منصور د وژلو له امله خواشیني څرګنده کړه او د ناوړو عواقبو خبرداری یې ورکړ.
زاخارووا، په افغانستان کي د امریکایانو پر کړنلاره نیوکه وکړه، ویې ویل:«له بده مرغه موږ شاهدان یو چي امریکا د خپلي تکراري سناریو پر بنسټ لومړی له یوې ډلي سره مذاکرې کوي او بیا هغه مذاکره کوونکي کسان وژني.»
https://Middleestpress.com



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په غور و لولئ

په کابل کې د ۱۳۹۸ل. ل، کال د غويي مياشتې په ۹مه نېټه ولسمشر اشرف غني پنځه ورځنۍ، د سولې مشورتي لويه جرگه پرانيستله، په جرگه کې نږدې ۳۲۰۰ تنو گډون کړی ؤ، د جرگې موخه دا وه چې له طالبانو سره د سولې خبرو څرنگوالی وټاکي.

په جرگه کې پخواني ولسمشر حامد کرزي، عبدالله او نورو ولسمشرۍ ته نوماندانو په نوموړي جرگه کې گډون ونه کړ، عبدالله نيوکه وکړه چې نوموړي جرگه د وخت ضايع کول او د يوې اونۍ لپاره د دولتي ادارو فلجول دي، نورو نوماندانو هم نيوکې وکړې دا لويه جرگه يې د ولسمشر اشرف غني د راتلونکو ولسمشرۍ ټاکنو لپاره يو کمپاين وباله.

عبدالرب رسول سياف چې د طالبانو سخت مخالف کس ؤ، (يو ځل د طالبانو تر بريد لاندې هم راغلی ؤ) د سولې مشورتي لويې جرگې مشر وټاکل شو، جرگې په پنځمه ورځ، ۲۳ ماده ييز پرېکړه ليک خپور کړ، په پرېکړه ليک کې د تل پاتي اوربند؛ د اسلامي جمهوريت پاتې کېدل؛ د طالبانو او حکومت زندانيانو خوشې کېدل؛ د حکومت لخوا د طالبانو مشروع او پرځای غوښتنو منل؛ د سولې په عالي شورا کې بنسټيز اصلاحات راوستل؛ له طالبانو سره د مذاکرو لپاره جهادي، ملي، متخصص، تجربه لرونکي، نېک، بشري حقونو ته ژمن؛ سوله غوښتونکي شخصيتونو گمارل او د سولې اړوند نور اړخونو باندې پرېکړه شوي وه.

د سولې مشورتي لويې جرگې اصل گټه طالبانو ته ورسيده، طالبانو تل د خپلو زندانيانو د خلاصون په هکه ټينگار درلود، جرگې له حکومت څخه وغوښتل د ښه نيت په موخه د طالبانو بنديان خوشې کړي او مشروع غوښتنې يې ومني.

هغه مهال چې کريم خليلي د سولې عالي شورا مشري ؤ، نو د شورا چارې په ټپه ولاړې وې چې له امله يې اشرف غني په خپل وروستي گام کې، وړاندې له هغې چې د ۲۰۱۹ز، کال ټاکنې ترسره شي د سولې عالي شورا دارالانشاء لغوه کړه خو د ولسمشر وياند په يوه خبري ناسته کې سهواً ووېل چې د سولې عالي شورا لغوه شوه.

د دغې لفظي غلطۍ پر وړاندې په ټولنيزو خبري رسنيو کې غبرگونونه په زړه پورې وو، ډېرو کسانو د اشرف غني له دغې گام ستاينه وکړه، ويل يې چې شورا هېڅ نه دي کړي او ډېر مالي زيانونه يې دولت ته اړولي دي، سره له دې چې دغه لفظي تېروتنه سمه شوه خو هغو افغانانو چې د شورا ناغېړيو او تمبليو ته نه ؤ ورپام، د هغو هم ورپام شو.

د سولې عالي شورا د دارالانشاء له لغوه کېدو، څه موده وړاندې اشرف غني د خپل دفتر رييس عبدالسلام رحيمي د سولې په چارو کې د دولت وزير په توگه ټاکلی ؤ، اشرف غني د سولې په چارو کې د دولت وزير ته سپارښتنه کړې وه چې د يوې کاري کميټې په جوړلو سره له ټولو کورنيو او بهرنيو بنسټونو سره مخامخ اړيکې ټينگې کړي او کار ورسره وکړي. (۵ غبرگولی ۱۳۹۸ل. ل)

په فرمان کې راغلي وو چې د سولې شورا د دارالانشاء ټولې دندې، واکونه، اسناد، وسايط، دفتري تجهيزات او وداني د فرمان د صدور له نېټې وروسته د سولې په چارو کې د دولت وزارت ته وسپارل شي.

د سولې عالي شورا دارلانشاء لغوه کول او د دولت په چارو کې د سولې وزارت جوړل، د سولې عالي شورا د بې کفايتۍ له امله رامنځ ته شول، اشرف غني غوښتل حکومت يې د سولې په خبرو کې مخامخ حضور ولري او څو ځلې يې ټينگار کړی ؤ چې د سولې په خبرو کې بايد د خبرو رهبري د حکومت او افغانانو په لاس کې وي.

د اشرف غني لخوا د سولې وزارت رامنځ ته کول، د ملي شورا ځينو وکيلانو او نورو يو عجولانه کار وباله، ويې ويل چې اشرف غني غواړي په دې کار سره په راتلونکو ولسمشريزو ټاکنو کې د نړيوالو ملاتړ خپل کړي.

د سولې عالي شورا چې هسې هم بې لاسو او بې پښو وه، د دارالانشاء په لغوه کولو سره لاپسې بې ځواکه او بې واکه شوه، حکومت نه غوښتل د سولې شورا لغوه کړي ويې ويل چې اوسمهال د سولې عالي شورا د دولت په چارو کې د سولې وزارت سره په گډه کار کوي.

د ۱۳۹۹ل. ل، کال د سنبلې په ۱۴مه نېټه، د دولت په چارو کې د سولې وزير عبدالسلام رحمي پر ځای، سيد منصور نادري د وزير په توگه وټاکل شو چې دا هم د يو جگړه مار، د اسماعيليانو مشر سيد جعفر نادري (سيد کيان) زوی او د طالبانو دښمن ؤ.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

وړاندې له دې عبدالله یو تن د مصطفی مستور په نوم نوموړي وزارت ته معرفي کړی ؤ خو ولسمشر غني د هغه ټاکل ونه منل خو د سید منصور نادري په اړه دواړو لورو اشرف غني او عبدالله موافقه کړې وه.

له بده مرغه چې د سولې په چارو کې د دولت وزارت د سولې له عالي شورا څخه هم بېکاره او بې مانا بنسټ ؤ چې تر پایه یې هېڅ ونه کړای شول.

سره له دې چې نوموړي وزارت ادعاد کوله چې د خپلو هلو ځلو په ترڅ کې له طالبانو سره مذاکرو ته نږدې شوي دي او په نږدې راتلونکي کې به له طالبانو سره مخامخ خبرو ته کښېني.

له طالبانو سره د دولت په چارو کې د سولې وزارت خبرو ته نږدې کېدل، د طالبانو ځواب، د نوموړي وزارت د دفتر د رییس پر ګاډي په یوه چاودونه ورکړای شو، طالبان چې له آره د افغان حکومت سره د سولې مخالف وو او څو ځله یې د سولې پر مخ کښانو مرګوني بریدونه کړي وو، دا ځل یې د دولت په چارو کې د سولې وزارت د دفتر پر رییس، نبي زاده باندې برید وکړ، نوموړی له برید روغ ووت، د دغه وزارت وزیر سید منصور نادري او د ملګرو ملتونو استازي شوی برید پر سوله برید وباله. (۱۳۹۹/۱۱/۱۳ل. ل)

بل لوري ته، طالب مرکچي ډلې او امریکایانو د قطر پلازمینې دوحه کې د اتم ځل لپاره سره ولیدل او دواړو لوریو وویل چې په ډېرو مادو بحث پای ته رسېدلی او ترون ډېر نږدې دی. طالب ویاند سهیل شاهین او امریکایي استازي زلمي خلیلزاد دواړو پر خپل ټویټر د مثبتو خبرو یادونه وکړه.

طالبانو وویل له امریکا سره له ترون وروسته به له افغان لوري سره بین الافغاني خبرې پیلوي. انګېرل کېده چې د دغو خبرو کوربه به کوم اروپایي هېواد وي. په پیل کې ناروې هېواد هوډ ښودلی ؤ چې دوی به په پلازمېنه اوسلو کې د افغان حکومت له لوري ټاکل شوي پلاوي او د طالبانو کوربه وي. خو دا خبر تایید شوی نه دی. اګست: ۲۰۱۹ز. (بي- بي سي، پښتو)

دا مهال د امریکا ولسمشر ډونالډ ترمپ په ټویټونو کې له طالبانو سره خبرې لغوه کړې. نوموړي څرګنده کړه چې پلان وه چې د سپتمبر پر ۹مه په کمپ ډیوېډ کې له افغان ولسمشر محمد اشرف غني او د طالبانو د قطر د سیاسي دفتر له مشر ملاغني برادر سره جلا جلا وګوري خو دوه ورځې وړاندې په کابل کې په یوه ځانمرګي برید کې د یوه امریکایي سرتېري د وژل کېدو په پلمه یې دا خبرې ودرولې.

په ورته وخت کې امریکایي ولسمشر د امریکا د ملي امنیت سلاکار جان بولټن هم له دندې ګوښه کړ او لامل یې د دوی تر منځ په بېلابېلو مواردو اختلاف وښودل شو. ځینې څېړونکي په دې اند وو چې د دوی تر منځ د اختلاف یوه موضوع له طالبانو سره د امریکا د سولې خبرې وې.

د رپوټونو له مخې د افغان سولې لپاره د امریکا ټاکل شوی استازی زلمی خلیلزاد د امریکا د سنا د بهرنیو چارو کمیټې سپیناوي ته وروغوښت.

ولسمشر ټرمپ د سپتمبر په وروستیو کې وویل له طالبانو سره یې د خبرو درولو یو لامل د دغې ډلې له لوري د اوربند نه منل وو. سپتمبر ۲۰۱۹ (بي، بي، سي، پښتو)

**نور بیا**

د لیکوال: آرشیف



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ